GÅTOR کیــسـی مـعـمـا

کیسیو په افغانی کلتور کی همېشه د دوستانو مجلسونه د خوښیو او خندا نه ډک ساتلي دي. دا نه یوازي په افغانی دود او رسم کي موجودي دي بلکي په نورو کلتورونو کي هم شته. دلته لاندي به یو څو کیسۍ چي د سویډني ژبي څخه را ترجمه(ژباړه ) شوي دي ستاسي د خوښۍ له پاره راوړو:
د کیسیو جوابونه په پای کي راغلي دي

رحمت‌الله سروري

۱ـ هغه څه‌شی دی چي درې ځیني ایسته کړې سل شي او که درې پر واچوې شل شي ؟

۲ ــ هغه څه شی دی چي ته یې و چوې دی نور هم لندیږي ؟

۳ ـ په پنیر کي هغه څه شي دی چي موږک یې لا نه خوري ؟

٤ــ سترګي لرم شی نه وینم ، پښې لرم تلای نه شم ، لاسونه لرم شی نه‌شم پورته کولای ، خوله لرم شی نه شم خوړلای او نه خندلای شم.
زه څه شی یم ؟

٥ــزه کوچنی یم ، رنګ مي ژړ ، سور او سپین دی ، ته چي ما په چاړه پرې کړې ته ژاړې زه نه ژاړم. زه څه شی یم ؟

٦ ــ موږ یو د بل و خنګ ته ناست یو. ټوله شیان وینو مګر خپل ځان نه وینو . موږ څه شی یو ؟

۷ ــ هغه څه شی دی چي په دوه شروع کیږي او په یوه ختمیږي ؟

۸ـ زه د کاغذ او یا فلز څخه جوړ شوی یم که هر څومره ډېر ټکي(nollor) ولرم هغومره مي ارزش(värde) ډېرېږي او د هر چا ډېري غوښتني پوره کولای شم. زه څه شی یم؟

۹ـ هر سهار مي سر را څخه ځي او د شپې بېرته راځي. زه د هغه چا ډېر یادېږم چي خوب ورځي. نو زه به څه شی یم؟

۱۰ـ زه څه شي یم چي الوتلای شم، وزرونه نه لرم، که را باندي پو کړې زه الوزم، مګر که مي په لاس و ښوروې ماتېږم؟

۱۱ـد ورځي په روښنایي کي زه هیڅ نه یم، د شپې له خوا کرار کرار پیدا کېږم، چي روښنایي نه وي زه هر چیري یم، چي د سهار خوا کیږي زه کرار کرار ورکېږم. زه څه شی یم؟

۱۲ـ زه څلور پښې لرم په هره پښه مي یو بوټ دی او زه همېشه بوټونه په پښو ویدېږم. زما نوم به څه وي؟

۱۳ـ موږ یوه جوړه یو، موږ تقریباً یو ډول ښکارو، یو د بل و څنګ ته ځو، موږ د فوټبال و لوبي او مېلمستیا ته هم یو ځای ځو. موږ تر دوه هیڅ وخت نه کمېږو، کېدای شي یو وخت لوی یا کوچني یو، رنګ او شکل مو کېدای شي هر رقم وي. زما به ستا په فکر څه وي؟

ـ ۱٤ زه څه شی یم چي غټه خوله لرم خبري نه شم کولای، دوه غوږونه لرم اورېدلای نه شم؟

۱۵ـ هغه څوک دی چې پېښې لري تللای نه شي ، ډوډی په شا وړای شي ،خوړلای یې نه شي؟

۱۶ـ هغه څه شي دی چې سترګه لري ، سر نه لري او هغه څه شي دی چې سر لري سترګه نه لري ؟

۱۷ـ هغه څه شي چې غاښونه لري او ژول ( tugga ) نه شي کولای ؟

۱۸ـ هغه څوک دی چې هره ورځ دباندې وزي مګر بیا هم په کور کې دننه وی ؟

۱۹ ـ هغه څوک دی چې زما د مور او پلار زوی دی مګر زما ورور نه دی ؟

۲۰ـ هغه څه شی دی چې هره ورځ یې لاس په لاس کې نیسې مګر هیڅ خبرې نه ورسره کوې ؟

۲۱ ـ د دنیا په کومه لویه وچه( världsdel ) کې بله لویه وچه شته ؟

۲۲ ـ د شرق او غرب تر منځ څومره اوږده لاره ده ؟

۲۳ ـ څوک تر غوږو په پور کې غرق (پټ) دی ؟

۲۴ـ د هیلۍ چیچی څه وخت لامبو وهل شروع کوي ؟

۲۵ــ هغه څشي دي چي ځي ، ځي او هيڅ وخت دروازې ته نه رسيږي ؟

۲۶ــ هغه څه شي دى چي په سلو کالـو کي ۲۵ ځـلي راځي او هر ځـلي يو ه ورځ وي ؟

۲۷ــ هغه څوک دی چي لمر وويني ژاړي ؟

۲۸ــ په کوم سپورت کي ګټوونکې خوا همېشـه پر شا ځي او بايلونکې مخ ته ځي ؟

۲۹ــ هغه څوک دی چي اکثـره وخت په اوبو کي ځي مګر نه لنديږي ؟

۳۰ــ هغه څوک چي ما نه لري غواړي چي ما دېر ولري او هغه څوک چي ما دېر ولري غواړي ما لنډ او ژر تېر کــړي ؟

۳۱ــــ هغه څوک دی چي پروت وي هم ګــرځــي ؟

۳۲ ــ هغه څوک دی که څه هم ژبه ورته راوباســې بيــا يې هم بې ادبي نه بولــي ؟

۳۳ ــ هغه ځشي دی چې غاړه لري مګر سر نه لــري ؟

۳۴ ــ هغه ځشي دی چې لـمر ویني مـګـر اوړی نه ویــنـي ؟

۳۵ ــ هغه ځشي دی چې د کور په دنـنـه کې ، د کور دبـاندې او په هره کوټه کې شـتـه ؟

۳۶ ــ څــوک دی چې ځلور پښـې او مــلا لري مــګـر بـدن kropp نه لــري ؟

۳۷ ــ هغه څوک دی چې پر اوبو اوړي بـېـلـه دې چې حرکت وکړي او یا و ښوري ؟

۳۸ ــ تر اســمـانه پوري څـومـره لاره ده ؟

۳۹ ــ د غــره او درې په مـــنــځ کې څه شی دی ؟

۴۰ ــ په کومــو پښــو پوري غــوښـې نه شـتـه ؟

۴۱ ــ هغه څـه شی دی چې خلګ یې خبرې ډېــرې کوي چې ښه یا بده ده ، مـګـر هیڅــوک کومک نه شي کولای ؟

٤٢ ــ هغه څــوک دی چې خولۍ لري مګر سر نه لري ، پښه لري مګر بوټ نه لري ؟

۴۳ ــ هغه څه شي دی چي هیڅ وخت نه یخی کیږي؟

٤٤ ــ څوک د یوه کور د دروازې څخه د بل کور تر دروازې پوري ځي مګر هیڅ وخت کور ته نه ننوزي ؟

٤٥ ــ په کوم ځای کي د بحر اوبه څپې نه لري، رودونه اوبه نه لري، ځنګلونه وني نه لري، غرونه لوړي څوکي نه لري او ښارونه هیڅ کورونه نه لري ؟

٤٦ ــ کومه ژبه هیڅ وخت دروغ نه وایي ؟

٤٧ ــ څنګه دوه خلک کولای شي چي یو د بل د پزو په منځ کي ودریږي ؟

٤٨ ــ یو څوک پوښتنه کوي : اوسلو Oslo په کوم مملکت کي ده ؟په ناروې کي. هو مګر په چک او سلواکیا Tjeckoslovakien کي هم شته څنګه ؟

٤٩ ــ دوه سرونه لري یوازي دوه لاسونه لري، شپږ پښې لري مګر څلور یې حرکت کوي او لس د پښو ګوتي لري. دا څوک دی ؟

۵۰ ــ هغه څه شی دی چې غرمه تر ټولو لنډه وي مګر سهار او مازدیګر اوږده وي؟

۵۱ـ په دنیا کې تر ټولو قوي او غښتلی د چنبلو شې څه شی دی؟

۵۲ــ د اور په مینځ کې همېشه څه شی وي ؟

۵۳ــ څلور یې لاندي ځړېږي ، پر څلورو ځي ، دوې یې لاره ور ښیي ، دوه یې سپي ډاروي ، و شا ته په یوه اوږده لکړه مچان شړي.
دا به څه شی وي ؟

۵۴ـ پنځه کوچنۍ نجوني تر یوې چترۍ لاندي تلې. ولې یې یوه لا لنده نه شوه ؟

۵۵ ـ یو شعر په درو تورو bokstäver کې ووایه ! څنګه یې وایې ؟

۵۶ـ سړی باید څه شی وکړي چې د شپې خوب یې خراب نه شي ؟

۵۷ ــ هغه څه شی چې زه یې وینم او ته یې نه وینې ، که څه هم ترما و تا ته ډېر نیږدې دی او ستا دی ؟

۵۸ـ کوم وخت یو سړی شپږ پښې لري او پر څلورو باندي ځي ، یعني دوې په کار نه اچوي ؟

۵۹ــ هغه څه شی چي هوا ته يې وغورځوې سپین وي او چي مځکي ته راورسیږي ژیړ/ژړ شي؟

۶۰ ـ هغه څه شی دی چي په ژمي جامې / کالي باسي او لڅ لغړ وي او په اوړي /دوبي کالي بیرته اغوندي او ډېر ښایسته وي؟

## د معما / کیسۍ / Gåtor ځـوابونـه

1 - سل او شل چي په تورو سره ولیکل شي.
۲ـ دستمال handduk
۳ ـ سوری / غار
٤ـ ناوکۍ
٥ـ پیاز
٦ ـ سترګي
۷ ـ ۲۱
۸ـ پیسې
۹ ـ بالښت kudde
۱۰ - د صابون د ځګ کوبۍ
۱۱ـ تاریکه mörkrätt
۱۲ـ آس
۱۳ـ بوټــونه
۱٤ـ دېګ
۱٥ ـ مېز
۱٦ـ ستنه/ مېخ
۱۷ ـ ږمنځ / اره
۱۸ ـ ګوګ snigeln
۱۹ ـ زه پخپله
۲۰ـ د دروازي لاستی
۲۱ـ د استرالیا په نوم کي اسیا هم شته.
۲۲ ـ یوه ورځ ( د سهار په شرق کي وي ، ماښام په غرب کي وي )
۲۳ ـ هغه څوک چي خولۍ یې په پور رانیولي وي.

٢٤ـ هغه وخت چي په اوبو کي وي او پښي يې و مځکي ته نه رسيږي.
٢٥ـ ساعت / ګړی
٢٦ ـ ٢٩ د فبروري
٢٧ ـ واورين سړی (snögubbe)
٢٨ ـ ريسمان کشي (dragkamp)
٢٩ ـ سيوری / سايه
٣٠ ـ وخت
٣١ ـ ساعت / ګړی
٣٢ ـ وډاکتر ته
٣٣ـ بوتل
٣٤ـ يخی is
٣٥ ـ دروازه / دړه / ور
٣٦ ـ چوکۍ
٣٧ ـ پُل bro
٣٨ـ يو د سترګو رپ
٣٩ ـ او
٤٠ ـ د چوکۍ په پښو پوري
٤١ ـ هوا vädret
٤٢ ـ پوخکۍ svamp
٤٣ ـ تودي اوبه
٤٤ ـ لاره
٤٥ ـ په نقشه کي karta över ett land
٤٦ ـ د حيواناتو ژبه
٤٧ ـ هغه وخت چي يو او بل ته شا و ګرځوي .
٤٨ ـ چک او سلوا کيا Tjeckoslovakien
٤٩ـ يو سړی چي پر آس سپور وي

٥٠ ـ سیوری / سایه
٥١ ـ اوبه ( په دې خاطر چې لویې کښتیۍ ورلاندې شي.
٥٢ ـ اور (و) یې په مینځ کې دی.
٥٣ ـ غوا
٥٤ ـ په دې خاطر چې باران نه اوربېږي.
٥٥ ـ شعر
٥٦ ـ د ورځې له خوا دې ویده شي.
٥٧ ـ ستا غاړه
٥٨ ـ هغه وخت چې پر آس سپور وي.
٥٩ ـ هګۍ
٦٠ ـ ونه **träd**

که هر څوک ددې کیسیو په باره کې کومه پوښتنه لري د رحمت الله سروري په مالمو/سویډن کې د پښتو د ښوونکي سره دې تماس ونیسي. ( Tfn: 0 737 289 815 )